سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۰۲/۰۳

# د جنګ دردا!

پرون یی مونږه ته خبر راکړ
چی سبا جنګ ته ځو تیار او سئ
د شپی زمونږ ټولی مشر راغی
ټولو عسکرو ته یی امر وکه
چی سربازانو تیارئ و نیسئ
سهار وختی ځو د جګړی محاز ته
زمونږ یوه ملګری
له ټولی مشر نه غوښتنه وکړه
که اجازه ور کړی چی کورته لاړشی
او د ناروغی لور احوال واخلی
خو ټولی مشر اجازه ور نکړه
چی د رنځوری لور په حال پوه شی.

سهار وختی چی اشاره و شوله
په وسایطو کی د جنګ محاز ته
له لمر ختو نه مخکی ورسیدو
د رسیدو سره سم
پخوا له دی چی موقعیت ونیسو
دښمن حمله وکړله
او په لومړی حمله کی
زمونږ ملګری چی غوښتل یی
خپله لور وګوری
په شهادت ورسید.

کله چی راغلو قرارګاه ته بیرته
د قوماندانه سره یوځای
مونږه ځو سرتیری



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

د خپل شهید ملګری کورته لاړو
د هغه لور د پلار پوښتنه وکړه
مونږه ځواب نه درلود
هغی هوښیاری جنی
وړو وړو سلګو کی
داڅو پوښتنی وکړی:

تاسو جنګ ولی کوی؟
ولی ځانونه ولی نور وژنی؟
اوس به بی پلاره زه
او مور او دا وړوکی ورور می
څنګه خوړلو ته ډوډۍ پیدا کړو؟
څنګه به ژوند تیروو؟
که تاسو هم مړه شی
ستاسو بچي به هم زمونږ غوندی شی
زه ستاسو مشر ته دا سوال کومه
چی نور جنګونه بس کړی
نور دا وژل پریدی
بی جنګه ژوند وکړی
بی جنګه ژوند له جنګ نه
ماته ډیر ښه ښکاریږی.

جنوری/۲۷/۲۰۱۸

